همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# په مزارشریف کې د دندې په باب غونډه

د شرعیاتو د څانګې یوې زده کوونکې داسې وویل: «دا یوه لویه خبره وه چې د عدلي او قضایي نهادونو او د هغوی د کړنلارو په باب مې لاپېر معلومات په لاس راوړل او داچې د ښځینه زده کوونکو د پاره د دې امکانات شته چې د مسلکي حقوقپوهانو په توګه دنده ترسره کړي».

د پوهنتون د ښځینه فارغانو لپاره په عدلي او قضاي سکتور کې د کار بازار ته ننوتل د ننګوونو سره مل دی. د نومړې غونډې موخه داوه چې د حقوقو ښځینه زده کوونکي د مسلکي کارونو او د حقوقپوهانو سره د لیدنې د بیلابیل فرصتونو څخه باخبرې کړې. له دې غونډې نه وروسته به یو لړ نورې ورته غونډې په راتلونکې کې جوړې شي چې د کار بازار ته د ښځینه فارغانو د لاسرسی څخه به ملاتړ وکړي.

په نومړې غونډه کې د بلخ د څارنوالی مرستیال داسې وویل: «زما د تجربې پر بنا، انفرادی ورتیا او پر ځان باور هغه دوه عاملونه دي چې د سړي سره مرسته کوي چې د خپلې دندې په لاره کې خنډونه له منځه یوسي».

د ښځو د رول د موډلونو سره خبرې اترې چې خپله مسلکي دنده په بریالیتوب سره پر مخ بیایي، د لازیاتې پوهې د په لاس راوړلو په لاره کې د محصلینو انګیزه غښتلي کوي و د هغوی سره مرسته کوي چې د نورو سره د مسلکي اړیکو شبکې جوړې کړي. هغه حقوقپوهان چې د قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو او ښوونکو په توګه دنده ترسره کوي محصلینو ته سلامشوره ورکوي او د هغوی سره خپلې تجربې شریکوي.

*په افغانستان کې د قانون د واکمنی د ټینګښت (RoL) پروګرام د* Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH *د ادارې له خوا د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د فدرال وزارت (BMZ) په استازیتوب پلی کیږي. د دې پروګرام موخه د قانون د واکمنی، یو ښه فعال قضایی سیستم او حقوقي امنیت تامینول دي. د ټولو هیوادوالو ته د حقوقي امنیت د تامینولو په موخه نومړي پروګرام د هیواد په ولایاتو کې د حقوق د مدیریتونو څخه ملاتړ کوي چې د ۲۰۱۳ کال راهیسې یې د ۷۷،۰۰۰ نه زیاتو قضیو ته رسیدګی کړیده. په همدې مهال، د لورو حقوقي زده کړو د ملاتړ په موخه نومړي پروګرام د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو ته د ۳۰،۰۰۰ توکو نه زیات کتابونه برابرکړي دي او د زده کوونکو او ښوونکو د پاره یې د ۱۵۰ نه زیات حقوقي کورسونه جوړکړي دي او د ۶۰ تنو نه زیات زده کوونکو ته یې سکالرشیپونه ورکړي دي. د قانون د واکمنی د ټینګښت پروګرام همدارنګه لبرتلږه ۱۳،۰۰۰ پولیس د قانون سره سم د دندې د ترسره کولو په موخه روزلي دي. دغه پروګرام همداراز د ښځو د حقونو پر ټینګښت او عدالت او د کار بازار ته د هغوی پر لاسرسی باندې ټینګار کوي.*

Teaser text:
نن دریو تنو ښځینه حقوقپوهانو خپلې دندې، د زده کړې سابقه او مسلکي لورى د حقوقو او شرعیاتو ۹۰ تنو ښځینه زده کوونکو ته بیان کړل. د دندې پ باب د بلخ په پوهنتون کې غونډه د قانون د واکمنی د ټینګښت د پروژې او د بلخ د پوهنتون د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو له خوا جوړه شوې وه.
تقدمونه:
ښه حکومتوالي
پایښتونکي اقتصادي پراختیا او کارجوړونه
Province:
بلخ
Downloads:
خبرپاڼه ـ په مزارشریف کې د دندې په باب غونډه ـ پښتو
Image:
161117_Pic_RoL_Career_Day
Subtitle:
د حقوقو او شرعیاتو د ۹۰ تنو ښځینه زده کوونکو لپاره د مسلکي فرصتونو په ملاتړ

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د خبر پول:
Press release

25.08.1396

- English
- Deutsch
- دری